لیکوال: سلام خان نیټه ۲۹-۰۱-۲۰۱۱

# افغانستان مصر او تونیس نه دي

نن می په انټرنیت کی په افغانستان کی دتونیس او مصر دهیوادونو په شانی د لاریونونو د شروع کیدو یو خبر ولوستي چی دښاغلی حامد الوتاند صاحب له لوری وړاندی شوی دی په دی باب غواړم خپل لنډ نظر څرګند کړم .

الوتاند صاحب، راځی چی لږ څه په خبره سر خلاص کړو افغانستان تونیس او یا مصر نه دي، هلته وسلوال مخالفین وجود نه لری په تونس او مصر کی وسلوالی ډلې او د القاعدی ځالی او دسلاح ګانو ډیپو ګان نشته، په تونس او مصر کی په دولت کی داخل جنګسالاران او مختلفی وسله والی ډلی شتون نه لري، په مصر او تونس کی د جهان د ۵۵ بیلا بیلو هیوادونو فوځیان دامریکا او ناټو په شمول شتون نه لری، افغانستان تونیس و یا مصر نه دی، په تونس او مصر کی خارجی فوځونه وجود نه لری لکه په افغانستان کی چی هریو یی دخپلو اهدافو پخاطر دمختلفو افغانی ډلو څخه دفاع کوی، مصر او تونس لکه افغانستان غوندی مداخله ګر ګاوندیان نه لرې، په تونس اومصر او یا دمنځنی ختیځ په نور هیوادونو کی چی څوک په مظاهیرو کی برخه اخلی هغوی ټول دخپلو فامیلونو او نژدی دوستانو سره یو ځای په خپل وطن کی ژوند لری په نورو ملکونو کی مهاجر نه دي او دلیری څخه ننداره کونکی نه دې او عملاً په مظاهیرو کی ګډون کوې، ولی په افغانستان کی وضعیت ددی برعکس دی. زه نه پوهیږم تاسی چی دا اواز اوچت کړی دی تاسی خپله په کوم بل خارجی هیواد کی سره دخپلو خوږو اولادونو او دوستانو ژوند کوي او غواړی په بل شوی اور باندی له لیری نور تیل هم وپاشي ولی معلومه ده چی ځمکه به هغه سوځی چی اور په بل کیږې، نور ټول هلي ځلی کوی چی افغانستان له دغه موجوده بحران څخه را وباسی ولی تاسی غواړی هغه بل بحران ته ور داخل کړي، دمظاهیرو تنظیم کیدل هغه هم دافغانستان په ډیر پیچلو شرایطو او ټیټ اقتصاد... اوداسی نوری خبری چی تاسی خپله ښه پوهیږې ډیر ساده کار هم نه دی چی په یوه اوونی کی دی څوک تنظیم کړې، تاته بهتره معلومه ده چی په افغانستان کی دوه نفره هم په یوه خوله او ژبه نه دي او هر یو یی ځان ته من، من وایی. بل فرض که داکار هم وشو دا دکرزی اداره هم ړنګه شوه دا فکر کولای شی چی په اینده کی به بیا تر کرزی وروسته څه کیږې؟ او قدرت به دچا ولاس ته ورځي؟ ایا فکر نه کوی چی بیا به کوڅه په کوڅه کو ر جنګی او دوینولښتی بهیږې؟ البته زما په نظر مظاهیری هغه وخت رول لری چی دعامو خلګو سر وسله نه وی او خپل سری یاغی او باغی مسلح ګرو پونه نه وې او ټول واک په هیواد کی دامنیتی فوځونو په لاس کی وې اوس دافغانستان په هر کور کی دسلاح ګانو ډیپو ګان پراته دې او هر ډله دبلي ډلی پرضد په کمین کی دانتظار په حال کی دې. که زما خبره منی فعلاً له دی کار ه تیر شه دا دافغانستان او دهغه هیواد دخلګو په ګټه په دی موجوده شرایطو کی نه ګڼم کوم چی دا ۳۵ کاله په جنګ کی سو ځول کیږې. او دافغانستان و شرایطو ته باید دخارجی ارامو هیوادونو دعینکو څخه ونه کتل شي، دا وړی هیڅوک له خارج څخه له ارامه بیستره اومفتو خبرو نه شی شړی کولی که دا کار کیدای شوای نومسکین یارصاحب، قاضی صاحب، عظیم جان، وردګ، ویس ناصری، عباسی، اوحسن امیری صاحب به اوس لا ډیر پخوا دافغانستان اصلی واک داران وایی او په خلګو باندی به یی حکومت کولای.

داکار وډیری قربانی او سربښندنی ته ضرورت لری او تر ټولو لومړی باید دعمل په ډګر کی په خپله مونږ ټول


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

افغانان باید حاضر شو او دافغانستان په دا خل کی دعامو افغانانو او سیاسی ګوندونو څخه داسی یوه متحده جبهه را منځ ته شی چی ټول په اتحاد او اتفاق دافغانستان دحیثیت او اعتبار دخوندی کولو لپاره په خپل منځ کی سره متحد شي دخپلو شخصی، قومی، ګروپی، تنظیمی، او لسانی ګټو څخه تیر شي، ددغو تیرو لسو کلونو په جریان کی دمختلفو افغانی سیاسی شخصیتونو له لوری دافغانستان دبحران دحل پخاطر مختلفی طرحی وړاندی شوي دي چی هره طرحه په خپل ذات کی په واقیعی معنا دافغانستان دمسئلی دحل لپاره مناسبی او پرځای وي ولی متا سفانه دافغانانو دخپل منځی اختلافاتو له وجه تر نن ور ځی پوری دکا غذ ونو پرمخ پاتی دي چی دغو طرحو او هلو ځلو کومه نتیجه ور نه کړه ایا دالوتاند صاحب مظاهیری به کومه نتجه ور کړي؟.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ